# د ټاکنيزو شکايتونو د ولايتي غړو ښوونيز پروګرام پای ته ورسيد



د ټاکنيزو شکايتونو د ولايتي غړو او کارکوونکو ښوونيز پروګرام ،چې د چنګاښ په ۹ نيټه د کابل سرينا په هوټل کې ددريو ورځو لپاره په لاره اچول شوی وه ، د چنګاښ په ۱۱ نيټه پای ته ورسيد .

په دغه ښوونيز پروګرام کې د هيواد د ۳۴ ولايتونو څخه د ټاکنيزو شکايتونو د کميسيون شاوخوا ۲۵۵ تنو غړو ګډون کړی وه .

ددغه ښوونيز پروګرام موخه د عامه پوهاوي ، په افغانستان ټاکنې او ټاکنيز حقوقي بنسټونه ،د ټاکنيزو شکايتونو د دارالنشا دندې ، ټاکنيزو شکايتونو ته د لاس رسي لپاره مقايسوي نظرونه ، د منازعاتو طرح ،د ټاکنيزو شکايتونو کاري طرز العمل ،د ټاکنو د خپلواک کميسيون اصول او طرز العمل او د عراق د ټاکنو د تجربو په برخه کې د ټاکنيزو شکايتونو د کميسيون د ولايتي غړو او کارکوونکو د ظرفيت لوړول ښودل شوي دي.

په دغه ښوونيز پروګرام کې چې درې ورځې يې دوام وکړ د ټاکنيزو شکايتونو ولايتي غړو ته په بيلابيلو برخو کې زده کړې ورکړ شوې.